ګرانو کورنیو،

په ویرجینیا کې د وړکتون څخه تر دریم ټولګي پورې زده کوونکي له وخت مخکې د لوست سکرینر یا آزموینه: د ویرجینیا آیالت لخوا د ژبې او لیک لوست سکرینینګ سیسټم (VALLSS) تر سره کوي. په دې لیک کې به مونږ تاسو ته دا ووایو چې مونږ ستاسو د ماشوم د لوست مهارتونو په اړه په څه باندې پوهیږو او دا چې مونږ به څرنګ دغه اړین معلومات د هغوي د لارښوونې په موخه وکاروو.

"ژبه او د سواد زده کړه" څه شی دی او دا څرنګه د لوست پراختیا یا ودۍ رامینځته کولو سره تړاو لري؟
د ژبې وده یا زده کول په خبرو باندې د پوهیدو او د خبرې کولو وړتیا ته ویل کیږي. سواد زده کړه په دې معنی ده چې یو څوک لیک او لوست کولی شي. د لوست کولو موخه دا ده چې زده کوونکی وکولی شي پر هغه څه پوه شي (درک یې کړي) چې لولي یې. د لوست تر سره کولو لپاره، زده کوونکي باید لاندینی کارونه تر سره کړی شي:

1. *ډیکوډ* - د کلمو/لغتونو لوستلو لپاره غږونه یوځای کړای شي
2. *اینکوډ* – کلمې/لغتونه املا کړای شي
3. *په ژبه پوه شي او پرې خبرې وکولی شي*

کله چې په دغو دریو برخو کې مهارتونه ښوالی مومي، زده کوونکي د *کلمو په فصاحت سره لوست* (په چټکی سره او په سمه توګه لوست کول) او د *لوست پوهه* یعنی (هغه څه چې لولي، پرې پوهیږي) رامینځته کوي.

د لوست سکرینر (آزموینه) څه شی دی؟
د لوست *سکرینر* یو ډول ازموینه ده کوم چې مونږ ته دا په ډاګه کوي چې ستاسو ماشوم به د لوست مهارتونو کې اړین پرمختګ کولو لپاره په احتمالی ډول ځومره اضافي مرستې ته اړتیا ولري. دا اړینه ده چې د ژبې او د لوست ستونزې رامینځته کولو لپاره خطر معلوم کړل شي کله چې ماشومان کم عمره وی، تر څو لارښوونې د ماشوم د اړتیاو سره په مطابقت برابرې کړای شی. که چیرته یو ماشوم د ژبې او لوست ستونزې رامینځته کولو لپاره د لوړ خطر سره مخ وی، نو دا په دې معنی دي چې هغوي اضافي لارښوونې (*مداخلې*) ته اړتیا لری ترڅو د هغوي سره د لوست په برخه کی په پرمختګ کولو کې مرسته وکړی.

***VALLSS* ارزونه څه شئ دئ؟**
VALLSS د ویرجینیا د پوهنې ځانګې (VDOE) لخوا تمویل شوی د لوست سکرینر یا د زده کړې کچه معلوموونکی آزموینه ده کوم چې د لوست ستونزې رامینځته کولو لپاره د ماشوم د خطر کچه او د لارښوونې پلان کولو په موخه ښوونکو ته د معلوماتو وړاندې کولو لپاره ډیزاین شوي دی. VALLSS د پخوانی PALS سکرینر پر ځای کارول کیږي. په VALLSS کی جزوي ازموینې شاملې دي چې *ډیکوډینګ*، *اینکوډینګ*، او د *ژبې* یا خبرې کولو کچه معلوموي، کوم چې د لوست پوهه رامینځته کولو لپاره اړین دي.

<u>زه څرنګ کولی شم د خپل ماشوم د VALLSS سکرینر د *زده کوونکی راپور لنډیز* ولولم؟</u>

د *لوست ستونزې* رامینځته کولو لپاره د خطر کچه/*باند*
ستاسو د ماشوم د *خطر کچه/باند د زده کوونکی د راپور لنډیز* په سر کې لیکل شوي دی. د خطر درې احتمالي *کچې/باندونه دي لکه، لوړ خطر، در میانه خطر، او تیټ خطر*. دا باندونه د الفبا پوهې (د وړکتون او ۱ ټولګی لپاره)، فونولوژیکی پوهاوی، او اینکوډینګ/ډیکوډینګ تر لاندې د کوډ پر بنسټ په ټولو جزوي ازموینو کې د زده کوونکو د نمرو پر اساس محاسبه کیږی. د دغو مهارتونو په اړه معلوماتونه په راتلونکی پاڼه کې د *VALLSS جزوي ازموینې* په چارټ کې شتون لري.

که چیرته ستاسو د ماشوم د *خطر باند یا کچه لوړه وي*، نو دا په دی معنی چې د لوست ستونزې رامینځته کولو لپاره ستاسو ماشوم د *لوړ خطر* سره مخ دی. *لوړ خطر* سره مخ زده کوونکی د ویرجینیا ایالت لخوا په وخت سره د مداخلې لوست نوښت (EIRI) پروګرام لخوا اړ دی چې د ټولګی د عادي لارښوونې پرته په اونی کې ۲.۵ ساعته د لوست اضافي لارښوونې ترلاسه کړی.

دا پریکړه به ډیوېژنونه او ښوونځي کوي چې مداخله به څرنګ وړاندی کیږی. په اونی کی د سواد زده کړې په دی ۲.۵ ساعته اضافي لارښوونه کی ممکن د یو *کس* سره یا یو *پروګرام* کی وخت تیرول شامل وی، یا ممکن د دواړو مجموعه وي. دا مداخله ممکن ستاسو د ماشوم په ټولګی کې یا په ښوونځی کې دننه په کوم بل بدیل ځای کې ترسره شی. تاسو کولی شئ د ځان ډاډه کولو لپاره د خپل ماشوم د ښوونکی څخه وپوښتئ.

که چیرته ستاسو د ماشوم د *خطر باند/کچه در میانه یا تیټه وی*، نو ستاسو ماشوم د مداخلی تر لاسه کولو لپاره نه پیژندل کیږي کومه چې د ویرجینیا ایالت لخوا په وخت سره د مداخلې لوست نوښت (EIRI) لخوا تمویل کیږي. خو بیا هم، ستاسو د ماشوم د جزوي ازموینې انفرادی نمرې ممکن لاهم دا په ډاګه کړی چې ستاسو ماشوم د لوست په ځینو مهارتونو کې اضافي لارښوونې ته اړتیا لري.

تدریسی شاخصونه یا نښې نښانې

د هرې جزوې ازموینې لپاره به ستاسو ماشوم عادي یا اصلی نمرې ترلاسه کړی. دا نمرې مونږ سره د هغه مهارتونو په نښه کولو کې مرسته کوی چې اضافي لارښوونې ته اړتیا لری. که چیرته ستاسو ماشوم د جزوې ازموینې د نمرو تر څنګ د *لارښوونې په ګوته کوونکی یعنی* (ستوری*) ولری، نو دا په دی معنی دی چې ستاسو ماشوم ممکن په دغه برخه کې اضافي لارښوونې ته اړتیا ولري.

د لوړ خطر تاریخچه

تاسو به د خپل ماشوم د لنډیز پاڼې په سر کې د عددونو تناسب ولرئ کوم چې ستاسو د ماشوم د لوړ خطر تاریخچه په ډاګه کوي. د "/" نښې څخه وړاندې عدد دا په ډاګه کوي چې ستاسو ماشوم په VALLSS آزموینه کې څو ځلی د لوست لوړ خطر کټګوری کې راغلی دی. د "/" نښې څخه وروسته عدد دا په ډاګه کوي چې ستاسو ماشوم څو ځلی د VALLSS معیاري ازموینه بشپړه کړې ده. د بیلګې په توګه، که تناسب ۵/۱ وی، نو دا په دی معنی ده چې ماشوم د لوړ خطر په باندې کې د ۵ ځله تر سره شوي ارزونې څخه یوازې ۱ ځل نمرې ترلاسه کړي.

د وړکتون څخه تر ۳ ټولګي پورې د زده کوونکو د VALLSS ارزونه څه شئ اندازه کوي؟

	د VALLSS جزوې ازموینې	تفصیلات
د کوډ پر بنسټ (حروفونه د غږونو سره نښلول)	**د الفبا تورو نومونه**	د لوبو او کوچنیو انګلیسي تورو نومونه اخیستل، ترڅو د تورو د نومونو په اړه پوهه اندازه یا معلومه شي
	د الفبا تورو غږونه	د لوبو او کوچنیو تورو د یوې جوړې (لکه Ee) د لیدلو پر مهال د هغو سم غږونه ویل، ترڅو د تورو د غږونو په اړه پوهه اندازه یا معلومه شي
	د پیل غږونه ویل	د یوې کلمې لومړی غږ ویل یا داسې کلمه ویل چې د ورکړل شوې کلمې غږ سره پیل شي، تر څو د غږونه جلا کولو وړتیا اندازه یا معلومه شي
	د غږونو یوځای کول	جلا جلا غږونو ته غوږ نیول او د یوې کلمې جوړولو لپاره یې سره یوځای کول، ترڅو د غږونو د ترکیب وړتیا اندازه یا معلومه شي
	د کلمو د برخو غږونه جلا کول	یوې کلمې ته غوږ نیول او په جلا جلا غږونو (فونیمونو) یې وېشل، ترڅو د غږونو د ماتولو او جلا کولو وړتیا اندازه یا معلومه شي
	اینکوډینګ یا املا کول او لیکل	د کلمو سم لیکل او املا کول، ترڅو د فونیکس (غږیزو قاعدو) د مهارتونو کارول اندازه یا معلوم شي
	د حقیقي کلمو لوستل	د کلمو لوستل، ترڅو د فونیکس د مهارتونو د عملي کارونې کچه اندازه شي
	د بې معنی کلمو لوستل	د هغو بې معنی (جوړو شویو) کلمو لوستل، چې له مخې یې د فونیکس د مهارتونو کارول اندازه کېږي
	د شفاهي لوست فصاحت (ORF)	د یوه درسي متن لوستل، ترڅو په یوه دقیقه کې د سمو لوستل شویو کلمو شمېر اندازه شي
ژبه	**د کیسې بیا بیانول**	یوې کیسې ته غوږ نیول او بیا په خپلو ټکو د هغې بیانول، ترڅو د شفاهي ژبې پوهه او مهارتونه و ارزول شي
	د اوریدلو د درک یا پوهې پوښتنې	تر کیسې اوریدلو وروسته پوښتنو ته ځواب ویل، ترڅو د اوریدلو له لارې د متن درک او پوهه اندازه شي
	بې سر او پایه جملې	د مسخره یا غیر منطقي جملو تکرارول، ترڅو د ګرامر پوهه او د جملې جوړښت اندازه شي
	تړلې لغاتونه	د یوې جملې له اوریدلو وروسته د هغې اړوند سم انځور غوره کول، ترڅو د لغاتونو پوهه وسنجول شي
	د لغاتونو چټک ویل	په چټکۍ سره د بېلابېلو انځورونو نوم اخیستل، ترڅو د لغتونو پوهه اندازه شي
RAN	**د تورو چټک نومول (RAN): توري**	د تکراري تورو نومونه په چټکۍ سره پرله پسې ویل، ترڅو د معلوماتو د پروسس کولو ستونزې وڅېړل شي

* ټولې فرعي یا جزوې ازموینې د هر ټولګي په کچه یا د ارزونې په هر وخت کې لازمي نه دي.

Copyright © 2024 by the University of Virginia